سلطان جان کلیوال

۲۰۱۹/۰۱/۰۹

# ویـــــــــش

د ژونـد تیولو اړخـو کی، ماته غـم دی رسیدلی
تیوپـک راتـه عـوض کی، د قـلـم دی رسـیـدلی

که دا د ازل کاروی، خو عجیبه غوندی ویش دی
هر کـوړ د ژوندون ماته، بل ته سم دی رسیدلی

حیران یم چی قسمت د رقیب، څومره زورور دی؟
هـرویش کی ماتـه ویر، ده ته صـنـم دی رسیدلی

هر وخت په هر موسم لگی، توفان زما په باغ
هر باغ تـه د حریف می تل، شبنـم دی رسیدلی

جانانه گیلـه مـکـړه، درنــه لـری خــوبـه یم
کوم درد چی تاته رســی، ماتـه سم دی رسـیدلی

تقسـیم ازلــی نه دی، دا عـمـل دی د انســان
دا ځکه یو ته عیش، بل تـه ســــتم دی رسـیدلی

هوښـیار شه کلیوال، تمیز نـه دی اسـان ځـکه:
چی عقل چـاته ډیـر او چـاته کـم دی رسـیدلی.

تورنتو – کانادا جنوری/۲۰۱۹/۸



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com